پوهنمل حاجي محمد نوزادي

# زیری: د کشتمند د تهمتونو ضد کتاب له چاپه ووت

(لومړی برخه)

کارغه ځان لکه طاؤس مابشام کي و ښود
خــو سهار يي راز ښرګند شو له رفتاره
( س. کليوال )



د يوه سياست پوه له خولي مي لوستي وه: يو ځوک کولای سي ځو تنه د تل د پاره او يو شمیر کسان د څه مودي د پاره وغولوي، مګر هیڅوک هم ټول خلک د تل د پاره غولولای نه شي.
دغه کتاب چي د چاپ زيری يي ورکوم، هغه درونډ کتاب دی چي د هیواد د اشغال پر وخت روسي اشغالګرانو ته تر ټولو محبوب او د لوړ صلاحیت لرونکی صدراعظم، سلطانعلي کشتمند د تهمتونو پر ضد تازه له چاپه را وتلی او لوستونکو ته وړاندي سويدی.
زه وړاندي له دې نه چي د دغه نوي چاپ سوي کتاب منځپانګي ته راسم، غواړم د سلطانعلي کشتمند د کړو وړو او د ده د اصلي څیري د پيژندلو په اړه لاندي ځو کرښي چي د يادولو وړ يي بولم، د ځوانو لوستونکو د ذهنيت د روښانولو په موخه وړاندي کړم.
د خپلو اصلي خبرو د پيل په درشل کي، يوه ډیره په زړه پوري خاطره ياد ته راغله او غواړم د لوستونکو سره يي شريکه کړم :
د ډنمارک په هیواد کي د Aarhus ښار د بحيرې پر غاړه پروت دي. د سږ کال د جولای میاشت وه. يو ماپښين د دغي بحيرې اوبو کي لمبيدم. لږ ها پلو ته يوه کښتي تيريدل او په اوبو کي يي د ځپو باداسکي راوستي. زه له اوبو نه د ساحل خواته په راوتو وم، يو نژدي پنځه کلن ماشوم هلک مي وليد چي د خپلي يوي وړوکي خورکی سره يي په اوبو کي بازۍ کولي. ما دوی د اوبو نه وچي ته را وايستل تر ځو د ځپو نه ازار و نه مومي. دوي دواړه د څيري نه کورياي يا ويټنامي دوله ښکاريدل. ما په ډنمارکي ژبه پوښتنه تري نه وکړه چي تاسي د کوريا ياست؟ وړوکي ماشوم په ډیر **غرور** سره په ډنمارکي ژبه ځواب راکړ: **نه، زه افغان يم، افغان** . بیا مي په دري ژبه تري نه و پوښتل: جان کاکا! تو پسر کي استي؟ هغه چي په دري ژبه هم ښه پوهيدی، يوي خوا ته ګوته و نيول او و يي ويل چي هغه مي مور او پلار دي. ما چي هغي خواته و کتل، يوه ځوانه جوړه مي وليدل. دا جوړه مي پخوا هم ليدلي وه او خبر وم چي زموږ هزاره ګان وطنوال دي، خو نژدي پيژندګلوی مي نه ور سره درلوده. دغه هزاره تبر ماشوم چي په پوره باور سره همدلته په ډنمارک کي زيږيدلي، يوازي يي له مور او پلاره د افغان او افغانستان نوم اوريدلي او دا ورته ويل سوي چي افغانان دي او بايد په خپل افغانيت او افغاني هويت باندي و نازيږي. د دغو هزاره ماشومانو افغاني غرور ډیر خوند راکړ او ور سره سم مي سلطانعلي کشتمند را ياد سو چي په افغانستان کي زيږيدلی، د هغه وطن اب و دانه يي خوړلي او هوا يي تنفس کړي، مګر خپله ټوله انرژي يي همدغه وطن ته د خيانت په لاره کي کارولي، د وطن د دښمنانو سره يي لاس يو کړي او د هغه تجزيې ته يي ملا تړلي وه.
اوس به راسم اصلي خبرو ته:
کله چي د ۱۹۷۸ د ډيسمبر پر ۲۷ نيټه (۱۳۵۸ کال د مرغومي شپږمه) د کا جی بي د دوزخي سازمان په مشرتابه د الفا د خاصو کماندويي قطعاتو په متو د وخت جمهور رئيس حفيظ الله امين او د هیواد د واک واګي د کرملين لاس ته ورغلي، نو هغوی ببرک کارمل د خپلي ډلي سره د مسکو څخه د کابل ارګ ته را ديسانت کړ. کارمل يي د جمهور رئيس او انقلابي شورا د مشر او سلطانعلي کشتمند يي د صدراعظم په توګه په کار و ګومارل.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

د افغانستان د حکومتولی په تاریخ کي د شوروي اشغال نه وروسته د هیواد ځمکني بشپړتیا ته د خیانت په چارو کي تر ټولو بدنامه څیره همدغه سلطانعلي کشتمند وو. ښایي لوستونکي په دې اړه پر ما نیوکي وکړي چي ولي مي تر ببرک کارمل پېښه واړول او د هغه مادون ته مي گوته ونیول. هو، ببرک کارمل ته د تبرئې ټکي نلرم، خو دلته خبره د هیواد د تجزیي په اړه د کرملین پر پلانو او په دې کار کي د کشتمند پر هلوځلو راگرځي. په دې خاطر که مي د دغه ټکي په اړه د ببرک کارمل نه پېښه اړولي او کشتمند ته چي ظاهراً او په رسمي توگه د ده مآدون وو، گوته نیولي وي ، لوستونکي مي دي نه ملامتوي او که لوستونکي پدې هکله بل ډول نظر لري، زه يې قضاوت ته درناوی کوم او د کارمل په کړو وړو کي د ستایلو ځای نه وینم.
سلطانعلي کشتمند که څه هم په رسمیاتو کي د ببرک کارمل مآدون وو، خو شوروي مشرانو يي صلاحیت عملاً تر ببرک کارمل زیات ټاکلیوو او د ده خبرو ته يې زیات ارزښت ورکاوه . ښایي دا به پدې خاطر وو چي ببرک یو دایم الخمر او بې ارادې سړی وو او کشتمند د یوه منظم پلان له مخي شورویانو ته کار کاوه. دا ځکه چي د ده ارزو او پلان په شعوري ډول د هیواد تجزیه او دا هغه څه وه چي شورویانو د اشغال په وروستیو کلونو کي، کله چي يې د شپاړسم جمهوریت جوړولو او د سمندر گرمو اوبو ته د رسیدلو پلانونه د افغان اولس د سترو او بې شمیره قربانیو له برکته شنډ سوه، نو یې د هیواد د تجزیي پر پروژه باندي عملي کار پیل او کشتمند ته يې د اجراآتو د نده وسپارل. د یادولو وړ ده چي شورویانو د اشغال په پیل کي د ټول افغانستان نیول او شپاړسم شوروي جمهوریت ورڅخه جوړول هدف و، نه د هغه تجزیه او ټوټه ټوټه کول. د دغي موخي ( شپاړسم شوروي جمهوریت ) د پاره بیا ببرک کارمل له بل هر چا نه ډیر مناسب سړی و. مگر د اشغال په وروستیو کلونو کي د شپاړسم جمهوریت په اړه او د لاري يي گرمو اوبو ته د کرملن د رسیدو پلانونه خاورو ته وسپارل سول، نو يي دا بله پروژه تر لاس لاندي و نیول. کشتمند چي دا کار یې یوازنی هیله او پخوانی ارزو وه، د دې پروژې تجربوي کار مزار شریف ته د صدارت د یوې څانگي له انتقال نه پیل کړ او نجیب الله مسیر یي چي د ده په شان ارزو يي درلوده او کا جي بي ته وفاداره یوه پیژندل سوې څیره وه، د شمال په چارو کي د خپل مرستیال په توگه و ټاکه او د چارو د وروستي سمبالښت پلان يي ور وسپاره.
دا هغه وخت و چي ببرک کارمل نور د سیاسي ډگر نه په رسمي توگه وتلی او ډاکټر نجیب الله ته د چارو واگي سپارل سوي وې، یاني دا کار د نجیب په واکمنۍ کي کشتمند تر سر کړ. تر هغه وخته چي د شوروي مستقیم اشغال دوام درلود ، نجیب هم د کشتمند د هر اړخیز صلاحیت سره مخالفت نه سو کولای ، خو د اشغال په وروستیو شپو ورځو کي د صلاحیت پر سر د نجیب او کشتمند تر منځ نانډرۍ منځته راغلي او کشتمند ظاهراً د ائتلافي کابیني د جوړولو په خاطر د څه مودي د پاره پر کور کښیناست او د صدارت چاري ډاکتر حسن شرق ته ور د غاړې سوې.
حسن شرق په دې وخت کي غوښته چي ځان د شوروي اغیز نه بهر او مستقل و ښئي، نو يي په یو لړ ریفورمونو باندي لاس پوري کړ چي تر یوې کچي مثبت هم وه. ده په دې لړۍ کي يي په مزار شریف کي د صدارت څانگه هم لغو کړه چي د اشغال ضد وطنپالو روڼ آندو لخوا و ستایل سوه او هرکلی يي وسو.

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ